# بست

## علمي او څېړنيزه مجله


ټوک : څلورم

ګڼه: لومړی

کال: ۱۴۰۴

بسم الله الرحمن الرحیم

# بُست علمي او څېړنیزه مجله

**بُست پوهنتون**

**څلورم ټوک – لومړی ګڼه**

**کال – ۱۴۰۴**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله

## بُست پوهنتون


**د امتیاز خاوند:** بُست پوهنتون

**مسئول مدیر:** ډاکټر ذبیح الله انوري

**سردبیران:** پوهندوی دوکتور علي احمد احمدي او خان محمد وفا

**د مجلې بورډ**

- ✓ پوهندوی دوکتور عبدالوهاب حکمت
- ✓ پوهندوی عبدالعزیز صابر
- ✓ پوهنمل حنیف الله باوري
- ✓ پوهاند دوکتور خال محمد احمدزی
- ✓ پوهندوی رضوان الله مملوال
- ✓ ارسلان وطندار
- ✓ پوهنیار بشیر احمد بابازوی

**کتنپلاوي**

- ✓ پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش
- ✓ پوهنوال نقیب الله مجددي
- ✓ پوهندوی دوکتور نجیب الله مجددي
- ✓ پوهندوی دوکتور علی احمد
- ✓ پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي
- ✓ پوهندوی نیاز محمد زاهدي
- ✓ پوهندوی ګل محمد اعظمي
- ✓ پوهندوی عبدالولي هجران
- ✓ پوهنیار عبدالولي همت
- ✓ خان محمد وفا
- ✓ ډاکټر ذبیح الله انوري



**ډیزاین:** د بُست پوهنتون د څېړنیزو او فرهنګي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۴

**درک:** بُست پوهنتون، لښکرګاه، هلمند، افغانستان

## د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د یوې علمي مؤسسې یو له مسؤلیتونو څخه دا دی ، چې نه یواځې خپل محصلان د پوهې په ګاڼه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زیرمتون څخه داسې څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولني د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره او یا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډګر کې د ګټې اخیستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسیدلو لپاره پوهنتون باید یو داسې علمي خپرندویه ارګان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحیته منسوبین که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه یال ، خپلې علمي او څېړنیزي مقالې او لیکنې د کاغذ پر مخ باندې کښېښودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې یې ښکاري، باید داسې مسائل را برسیره شي، چې نه یواځې په پوهنتون پورې راګیر پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانګړي ډول سره د هلمند ولایت د اوسیدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، بریالیتونونه، ستونزي ، وړاندیزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله یواځې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولایت ، آن د سیمي او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څېړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د یوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، یوه محبوبه او پر زیاتو خلکو باندې ګرانه مجله وي او په ټول هیواد کې به خپل مینه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مینه د علمي او څېړنیزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډګر کې چې وي، یو خپرنیز ارګان وي،چې و خپریدلو ته به یې ټول مینه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تیره بیا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څېړنیزو مقالو و لیکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبینو په استازیتوب ویاړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې د خپریدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستیال او د څېړنې له محترم آمر او همدا رنګه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زیار او زحمت په ګاللو سره چې مجله یې و خپریدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم او هیله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخری تحلیل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټینګ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډیپلوم انجنیر محمود سنګین**

**د بُست پوهنتون رئیس**

## سریزه

بُست پوهنتون وياړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې يې يو بل ډېر مهم او اړين ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څېړنيزي مجلې د څلورم ټوک، لومړی ګڼې خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مينه والو ته د بُست د علمي او څېړنيزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتيبولو او خپرولو کې يې نه ستړې کېدونکې ونډه اخيستې ده د زړه له کومې مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده  او پوره باور لري چې د ننني نړۍ هر اړخيزه پر مختګ د پوهانو د علمي څېړنو د زيار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسي، اکاډميک انستيتوتونه او څېړنيز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پريکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډميکو نورمونو په رعايت د تدريس، علميڅېړنو او نوښتونو له لارې مسلکي کادرونه وروزي  او د معياري تحصيلي اسانتياوو او زمينو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معياري او د لوړ کيفيت لوړې  زده کړې وړاندی او د علميڅېړنو پر بنسټ د کره پوهنيزو اثارو د توليد زمينه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټورو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتينو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هيواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتيني خدمت جوګه شي.

ژمن يو چي د هلمند ولايت، ګاونډيو ولايتونو او په ټول هيواد کي ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کي معياري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څېړونو زمينه برابره او ټولني او هيواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څېړنيزه مجله يوازي د **سائينسي علومو** په برخه کې علمي او څېړنيزي مقالي او ليکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هيله مند يو چې په راتلونکې کي به نوري برخي هم ور زياتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشأالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څېړنيزي مجلې د خپرولو له لارې خپل دغه دروند خو  وياړلی دين (پور) ادأ کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهي څښتنانو او مينه والو ته  په مينه سره بلنه ورکوو چي ددی علمي او څېړنيزي مجلي او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کي خپلي علمي او څېړنيزي ليکني، آندونه، وړانديزونه او رغنده  نيوکي  او مرستي د تل په شان  راولوروۍ  او د علم  ددي ستر کور په ودانولو کي د خپلي ديني، او ملي برخي د اداينې وياړ راوبخښئ.

مورږ هوډ کړيدي او هيله مند يو چي انشآ الله  د وخت په تيريدو سره به د خپل هيواد و بچيانو او ځوان نسل ته د تدريس ، ښه روزني او څېړنيز هاند لپاره اړيني او د پام وړاسانتياوي برابري کړو تر څو په لومړي پړاو کښي خپلو هلمندوالو بيا د سهيل لويديځي حوزي او په پاي کښي و ټولو هيوادوالو ته د يو داسي چوپړ مصدر وګرځي چي زموږ د ځوريدلي اولس او ويجاړشوي هيواد اقتصادي، فرهنګي، سياسي او ټولنيزي ستونزي حل او افغانستان د نړي د پرمختللوهيوادونو په ليکه کي ودريږي.

# لړلیک

| د صفحی شمیره | د مقالی عنوان |
|---|---|
| 1 | په پراخه شبکه کي د IPV6 پروتوکول د بدلون ستراتيژي<br>خان محمد وفا |
| 10 | Psoriasis: A Comprehensive Overview of Its Etiology, Clinical Features, and Preventive Strategies<br>Dr. Zabihullah Anwary[1] and Dr. Ali Ahmad[2*] |
| 24 | د مجازي شخصي شبکې د امنيت تطبيق او ډيزاين<br>خان محمد وفا |
| 41 | Green Marketing: A Review of Sustainable Consumer Preferences<br>Dr. Ali Ahmad[1*] and Mir Wais Nazari[2] |
| 51 | Livestock Development, Marketing, and Expansion in Afghanistan: Key Challenges and Strategic Approaches<br>Dr. Ali Ahmad[1*] Mir Wais Nazari[2] and Mustafa Amin[3] |
| 66 | د بيسيم د منځني سطحي شبکې ډيزاين او د اجراتو تحليل<br>بشیر احمد هادی |
| 86 | په هلمند ولايت کي د کوچنيو او منځنيو تصديو د کارمندانو په رضايت باندي د مجموعي کيفيت د مديريت اغيزي<br>سردار ولي الهام[۱]، میرویس نظري[۲*]، پوهنيار حميد الله الهام[۳] |
| 99 | د هلمند ولايت د عامه ادارو پر کړنو باندي د مسلکي کارمندانو د گمارني اغيزي<br>ن. پوهنيار حکمت الله خادم[۱*]، ن. پوهنيار مجتبی امين[۲]، ارسلان وطندار[۳]، محب الله اميني[۴]، محمد يوسفي[۵] |
| 113 | د مديريت پر اغېزمنتيا باندي د همکارۍ د کلتور اغېزي ( هلمند – ښاروالي )<br>نوماند پوهنيار مجتبی امين[۱*]، نوماند پوهنيار امان الله نيازی[۲]، عبدالهادي حقيار[۳] |
| 124 | په عامه ادارو کي د مسلکي کارمندانو د هڅوني اغيزي<br>نوماند پوهنيار عبدالقدير خادم[۱*]، فيض محمد فيضي[۲]، مصطفی امين[۳] |
| 136 | Effects of dietary phenylalanine on growth performance and digestion of common carp (*cyprinus carpio*)<br>Saifullah Sharifi[1*], Naqeebullah Ejaz[2], Abdul wali Hemat[3] |

# د بیسیم د منځنۍ سطحې شبکې ډیزاین او د اجراتو تحلیل

بشیر احمد هادی

د کمپیوټر ساینس پوهنځی استاد، بُست پوهنتون

د مسؤل ایمیل ادرس: bashir.hadi12@gmail.com

## لنډیز

بیسیم میش شبکه (Wireless Mesh Networks – WMNs) یو نوښتګر ټکنالوژي ده، چې د ارزانه، پراخېدونکي او باوري بیسیم اړیکو د برابرولو لپاره کارول کېږي. دا مقاله د میش شبکو د ډیزاین اصول او د فعالیت تحلیل په اړه هر اړخیزه څېړنه وړاندې کوي. د ډیزاین برخه کې د شبکې جوړښت، د راوټینګ پروټوکولونه، د نوډونو ځای پر ځای کولو ستراتیژۍ او هارډویر اړخونه تر ارزونې لاندې نیول سوي. په ځانګړي ډول دا څېړنه ښیي، چې دغه عوامل د شبکې پر فعالیت (لکه throughput، ځنډ – latency، د معلوماتو د لېږد نسبت – packet delivery ratio او د پراخېدنې وړتیا – scalability) څومره اغېز لري؟ د شبیه‌سازۍ پر بنسټ تجربو او تحلیلي ارزونو له لارې، بېلابېل تنظیمات او پروټوکولونه سره پرتله سوي، تر څو د مختلفو حالاتو لپاره غوره حللاري وپېژندل سي. د دغې څېړنې موندنې د فعالیتي شاخصونو او ډیزاین انتخابونو تر منځ د تبادلې (trade-offs) مهمې نکتې روښانه کوي او د هغو کسانو لپاره لارښود وړاندې کوي، چې غواړي مؤثر او د باور وړ بیسیم مش شبکې تطبیق کړي.

**کلیدي کلیمې**: Network, Mesh , Router

## سریزه

بیسیم شبکه چې د کمپیوټر شبکې یو ډول دی د هیڅ ډول کېبل سره تړلی نه وي. د بیسیم شبکې ټیکنالوژي خورا عملي اغیزمنه او ارزانه ده، په حقیقت کې دا ډول شبکه د تولید زیاتوالي او په اسانۍ سره د معلوماتو شریکولو لپاره یو پیاوړې وسیله ده. دا غوره ده چې د بیسیم شبکې تاریخ په اړه لږ څه پوه سي. لومړی مسلکي شبکې په 1969 کې د هاوایي پوهنتون کې رامنځته سوې او په 1971 کې لومړی سوداګریزه بیسیم شبکه پرانستل سوه. نن ورځ ډېری خلک د بیسیم شبکې ټیکنالوژي کاروي. **په** عموم کې د معلوماتو د لیږد یوه طریقه ده، چې د بیسیم یا تار نه لرونکي راډیو څپو کارول دي، په حقیقت کې بیسیم شبکې د بریښنایي مقناطیسي څپو له لاري اړیکه نیسي، چې ډیټا او آډیو ویډیو او نور معلومات لیږدوي(Ali, 2000) . په ساده کلمو کې بیسیم شبکې هغه کمپیوټري شبکې دي، چې د کیبلونو له لاري له نښلولو پرته د راډیو څپو پراساس فعالیت کوي. د بیسیم شبکو په منځ کې موږ کولای سو د ګرځنده تلیفونونو اتوماتیک دروازې خلاصونکي د سپوږمکۍ شبکې د بیسیم کمپیوټر لوازم (لکه: موږک کیبورډ او نور) پیژو او نور یادونه وکړو. له همدې امله د بیسیم شبکې بیلابیل ډولونه په پراخه کچه په بیلابیلو سوداګرۍ کې کارول کیږي. د بیسیم شبکې د ټیکنالوژۍ پرمختګونو سره خورا مشهور سوي وسایلو ته اجازه ورکوي، چې د فزیکي کېبلونو اړتیا پرته انټرنیټ یا نورو شبکو سره وصل سي، دا ډول شبکه ګټې او زیانونه لري، چې موږ به یې نور هم وڅېړو.

## مواد او کړنلاره

دغه څېړنه د کتابتون بنسټه تګلاري (literature-based method) له له لاري ترسره سوې ده، چې په هغې کې مو له معتبرو علمي مقالو، کتابونو، کنفرانسي مقالو او تخنیکي راپورونو څخه ګټه اخیستې ده. د معلوماتو راټولولو لپاره مو نړیوالي علمي پایګاوي، لکه IEEE Xplore، ScienceDirect، SpringerLink، او Google Scholar کارولي دي. موږ هڅه کړې ده، چې د بیسیم مش شبکو د ډیزاین اړوند مهم عوامل، لکه توپولوژي، راوتینګ پروتوکولونه، د نوډونو ځای پر ځای کول او د فعالیت شاخصونه، لکه throughput، delay، PDRاو scalability تر ارزوني لاندي ونیسو. ټولي راټولي سوي سرچینې تحلیل سوي او پرتله سوي، تر څو د مختلفو ډیزاینونو او پروتوکولونو د اغیز ارزونه وسي.

## د څېړني موندني

**د بیسیم شبکې د جوړولو ګټې:**

د بیسیم شبکې مختلف ډولونه کارول مختلف ګټې راوړي. په دې برخه کې موږ به دا ګټې وڅېړو که تاسو د بیسیم شبکې غوره کولو اراده لري نو دا به غوره وي، چې ددې شبکې ګټو سره ځان وپېژني، تاسو کولای سي ددې ګټو سره سم د بیسیم شبکې نصبولو او عملیاتو په اړه اسانه پرېکړه وکړي. د بیسیم شبکې د جوړولو ګټې په لاندي ډول دي(Cisco Systems, 2025):

**۱. معلوماتو ته چټک لاسرسی:**

د بیسیم شبکې مختلف ډولونه کارول مختلف ګټې لري، ددې شبکو یو له وړتیاوو او ګټو څخه معلوماتو ته د ګړندي او اسانه لاسرسي امکان دی، تاسو کولای سئ هر وخت د سیستم معلوماتو ته لاسرسی ومومئ.

**۲. د شبکې سرچینو کارولو کې اسانتیا:**

د بیسیم شبکې ډولونو یوه ګټه ددې شبکو کارولو اسانتیا ده. کاروونکي کولای سي په اسانۍ سره د بیسیم شبکې په کارولو سره د شبکې سرچینو ته لاسرسی وومي له همدې امله که تاسو غواړئ د شبکې سرچینو ته په چټکۍ سره لاسرسی وموئ د بیسیم شبکې کارول غوره انتخاب دی.

**۳. اسانه لاسرسی:**

انټرنیټ او بیسیم شبکه کېبلونو او تارونو ته اړتیا نه لري. له همدې امله کاروونکي کولای سي د بیسیم شبکه هر چیري وکاروئ. د بیسیم شبکې کاروونکو ته اسانه لاسرسی دا امکان ورکوي، چې پرته له مداخلې انټرنیټ سره وصل سي.

**۴. اسانه نصب:**

د بیسیم شبکې یوه ګټه اسانه نصب کول دي، د بیسیم شبکه د نورو شبکو په پورتې له نصب او تنظیم کول خورا اسانه دي له همدې امله کاروونکي کولای سي د نصب کولو پروسې چټکولو لپاره د بیسیم شبکه غوره کړي.

**۵. د کم نصب لګښت:**

د بیسیم شبکې یوه ګټه د تنظیم او نصب کولو ټیټ لګښت دی. که تاسو غواړئ لږ پیسې ورکړئ موږ د بیسیم شبکې وړاندیز کوو. سربیره پردې د بیسیم شبکې د ساتلو او ملاتړ لګښت د نورو شبکو په پرتله خورا ټیټ دی.

**٦. لوړ انعطاف او توزیع وړتیا:**

د بیسیم شبکې ډولونو کارولو یوه ځانګړتیا او ګټې ددې ډول شبکو لوی انعطاف دی. هغه کاروونکي، چې د بیسیم شبکه کاروي کولای سي د لوړ سرعت کمپیوټر او مخابراتي شبکې ته هر چیرې لاسرسی ومومي. که ستاسو شبکه په راتلونکي کي بدله سي تاسو کولای سئ په اسانۍ سره د نوي ترتیب سره سمون لپاره د بیسیم شبکه تازه کړئ. د بیسیم شبکې هم د اندازې وړ دي، دا شبکه د سازمان اړتیاو سره سم په اسانۍ سره بدلیدلای او اندازه کیدای سي.

**۷. ډېر موثریت:**

د بیسیم شبکې یوه ګټه ډېر موثریت دی. ځکه چي دوی د کاروونکو لپاره غوره اړیکه رامنځته کوي. د معلوماتو لیږد د بیسیم شبکې په کارولو سره خورا ګړندئ کېږي.

**د بیسیم شبکې زیانونه:**

د بیسیم شبکې ټول ډولونه ګټې او زیانونه لري، د دوی زیانونه په لاندي ډول سره دي(Invest Northern Ireland, 2025):

**لږ امنیت:** د بیسیم شبکې یو له زیانونو څخه لږ امنیت دی. بیسیم شبکې د هیک کولو لپاره زیان منونکي دي، هیک کول کولای سي د حساس معلوماتو له لاسه ورکولو لامل سي. د بیسیم شبکې د لږ امنیت له امله ډېری کاروونکي دا ډول شبکه لږ کاروي. سربیره پردې که د بیسیم شبکه په سمه توګه نصب نه سي دا ممکن امنیتي ګواښونه رامنځته کړي البته د ټیکنالوژۍ په پراختیا سره داسي میکانیزمونه رامنځته سوي، چي د بیسیم شبکې امنیت زیاتوي ددې اندیښنو د کمولو لپاره سوداګرۍ باید امنیتي تدابیر پلي کړي، لکه کوډ کول په هرصورت د خطرونو رامنځته کول او امنیتي ستونزې د بیسیم شبکې له زیانونو څخه دي.

محدود بینډ ویت: د بیسیم شبکې ټول ډولونه محدود بینډ ویت لري. په بل عبارت دا شبکې کولای سي یوازې په یو وخت کي د یو مشخص شمېر کاروونکو یا وسایلو ملاتړ وکړي، دا نیمګړتیا د سوداګرۍ لپاره ستونزمن کیدای سي، چي د لوی شمېر کاروونکو یا وسیلو ملاتړ ته اړتیا لري، برسېره پردې د بیسیم شبکې کولای سي د شبکې حالت لخوا اغیزمن سي کوم، چي د ورو فعالیت پایله لري. بیسیم شبکې نسي کولای د VTC یا ویډیو کنفرانس ملاتړ وکړي. ځکه چي دوی لږ تر لږه بینډ ویت لري. همدارنګه ددې شبکې د پراخولو توان ډېر محدود دی، سربیره پردې بینډ ویت ممکن د نورو کاروونکو لخوا غلا سي کچیري د شبکې پټنوم خوندي نه وي.

**لږ اعتبار:** د بیسیم شبکې یو له زیانونو څخه په څپو کي د مداخلې امکان دی که چیري بریښنایي مقناطیسي څپې د بیسیم شبکې سره مداخله وکړي دا ممکنه ده، چي دا شبکه منحل کړي له همدې امله تاسو باید دا هم په پام کي ونیسي. کله چي د بیسیم شبکه غوره کړئ.

**د مداخلې لپاره حساس:** د خارجي فکتورونو، لکه دوړو یا دوړو له امله په بیسیم شبکو کي د مداخلې او بندیدو احتمال ډېر دی. بیسیم شبکې د مداخلې لپاره خورا حساس دي له همدې امله د غبار وړانګو د راډیو سیګنالونه یا کوم بل فکتورونه کیدای سي د بیسیم شبکې په فعالیت کي مداخله وکړي.

**د بیسیم شبکې ډولونه:**

**شخصي بیسیم شبکې (Wireless PAN or Wireless Personal area Network)**

شخصي بیسیم شبکې په یوه کوچني ځای کي د ډېری وسیلو تر منځ بیسیم اړیکه ده. په دې شبکه کي کمپیوټر ګرځنده وسایل او لوازم، لکه هیډفونونه شامل دي. ترټولو مشهور شخصي بیسیم شبکه د بلوتوث شبکه ده (John, 2008).

**د شخصي کمپیوټر په شبکه کي د تار ټیکنالوژي(Wireed PAN)**

Universal Serial Bus (USB) یو له پروتوکولونو څخه دی، چي د PANشبکې لپاره ډیزاین سوی کوم چي د USB پورټونو سره مجهز وسیلو، لکه بهرني هارډ ډرایو او ډیسکونه، چي د USB فلش په نوم پېژندل کېږي. د لپټاپ او ډیسټاپ کمپیوټرونو ترمنځ د ډیټا تبادلې مسؤلیت لري، البته ددې پروتوکول بله دنده نورو وسیلو ته د بریښنا رسول دي. د USB پورټ د کمپیوټر وسیلې د بریښنا رسولوسره د بهرني هارډویر بریښنا

په شخصي کمپیوټر شبکه کي د بیسیم ټیکنالوژي(Wireless PAN)

انفراریډ(IR) :

IR یوه بیسیم ټیکنالوژي ده، چي په انګلیسي کي انفراریډ ورته ویل کېږي، چي په تیرو وختونو کي دا ټیکنالوژي د دوو کمپیوټر سیستمونو (موبایل/ تلیفونونو) ترمنځ د ډیټا لیږدولو لپاره کارول کیده. د ګرځنده تلیفون دوه وسیلې د لید مستقیم کرښې او د څو سانتي مترو لنډ واټن ته اړتیا لري، ترڅو د IR مخابراتو ټیکنالوژۍ له لارې ډیټا لیږل او ترلاسه کړي (John,2008).

**IR درې نسخې لري:**

د IRDA-SIR نسخه کوم چي د ورو سرعت ډول دی او په هغې کي د معلوماتو لیږلو او ترلاسه کولو کچه په یوه ثانیه کي د 115 کیلوبایټ سره مساوي ده.

د IRDA-MIR نسخه کوم چې د منځني سرعت ډول دی او په هغې کې د معلوماتو لیږلو او ترلاسه کولو کچه په هره ثانیه کې د 1.15 میگابایټ سره مساوي ده.

د IRDA-FIR نسخه کوم چې د لوړ سرعت ډول دی او په هغې کې د معلوماتو لیږلو او ترلاسه کولو کچه په هره ثانیه کې د 4 میگابایټ سره مساوي ده(Geeks, 2021).

- بلوتوت:

بلوتوټ یو بیسیم ټیکنالوژي ده، چې د 2.4 GHz فریکونسی رینج کې د دوه وسیلو تر منځ اړیکه رامنځته کوي IEEE( Institute of Electrical and Electronics Engineers) د بلوتوت لپاره 802.15.1 معیار چمتو کړی. دا ټیکنالوژي د لومړي ځل لپاره په 1989 کې د سویډن شرکت اریکسن کې د پروفیسور نیلس ریډبیک لخوا اختراع سوه او وروسته یې بلوتوت ته نوم ورکړ، دا ټیکنالوژي په 79 1 MHz چینلونو کې مخالف وسیلې ته ډیټا لیږي(Geeks, 2021).

- :UWB

د Ultra Wide Band ټیکنالوژي، لکه بلوتوټ او وای فای. د بیسیم مخابراتو پروتوکول دی، چې د مخالف وسیلې سره د خبرو اترو لپاره راډیو څپې کاروي دا پروتوکول په مخابراتو کې لوړې فریکونسۍ کاروي او د 7 او 70 Mbps تر منځ د بینډ ویت ملاتړ کوي. UWBپه 2000 کې معرفي سو او د ډېرو کلونو لپاره په نظامي رادارونو کې کارول کیده(Geeks, 2021).

نن ورځ د UWB چیپ خورا ارزانه او کوچنی دی او په سمارټ فونونو کې کارول کیدای سي. ایپل په آی فون کې دا ټیکنالوژي کاروي. د UWBریسیور ته د ملیونونو راډیو نبضونو لیږلو سره د UWB لیږدونکی ډیټا په خوندي او خوندي ډول د دوه وسیلو ترمنځ لیږدوي، دا ټیکنالوژي د بې ساري دقت سره دقیق ځای ټاکلو لپاره کارول کېږي. کله چې دوه UWB وسیلې یو بل ته نږدې کینبودل سي دوی په دقیق ډول د دوی فاصله اندازه کول او محاسبه کول پیل کوي او بیا ډیټا لیږدوي، په UWB کې دقیق موقعیت تر 200 مترو پوري اندازه کیدای سي.

- :ZigBee

په دې ورځو کې د شیانو ټیکنالوژۍ انټرنیټ په کارولو سره د کور اتومات پلي کولو موضوع گرمه ده zigbee د Wireless PAN شبکه کې د IEEE 802.15.4 معیار پراساس یوه بیسیمه ټیکنالوژي ده، چې په IoTشبکو کې یې خپل ځای خلاص کړ، هغه بانډ ویت چې دا ټیکنالوژي یې ملاتړ کوي شاوخوا 250 کیلوبایټ په یوه ثانیه کې دی (Quest Technology Management, 2022).

zigbee شبکې د ټیټ بینډ ویت او لوړ امنیت سره د بیسیم معلوماتو لیږدولو لپاره کارول کېږي. د پایلې په توگه زیگبي معمولا د Wi-Fi شبکې لپاره د بدیل په توگه کار کوي. کله چې موږ ډېری بینډ ویت ته اړتیا نه لرو. د بلوتوټ ټیکنالوژۍ برعکس زیگبي د دوو وسیلو تر منځ د پواینټ ټو پواینټ اړیکه نه رامنځته کوي، مگر د وسیلو ترمنځ میش اړیکه رامنځته کوي.

Zigbeeشبکې معمولا په 4 پوړونو کې تعریف سوي:

1 فزیکي پوړټ.

2 ماک پوړټ.

3 د شبکې پوړټ.

4 د اپلیکیشن پوړټ.

په 1 او 2 طبقه کې د فریکونسۍ او چینل ارزښتونه مشخص سوي او په 3 طبقه کې د څو هبونو له لاري روټینگ او تیریدل مشخص سوي په 4 طبقه کې د ادرس مختلف ډولونه ترسره کېږي، پشمول پروفایلونه کلسترونه او نوډونه.

سیمه ایزه شبکه (Wireless local area networks یا Wireless LANs )

سیمه ایزه بیسیم شبکې کولای سي په ودانۍ کې مختلف وسایل وصل کړي، په دې شبکه کې د شخصي ساحوي شبکو (WPANs) په پرتله د وسایلو ډېرى ډولونه او شمېر شامل دي سیمه ایز بیسیم شبکه کې کمپیوټر گرځنده وسایل پرنټرونه فایروالونه د اکسس پوینټ او روټرونه شامل دي. تر ټولو مشهور سیمه ایزه بیسیم شبکه Wi-Fi ده د بیسیم LANتطبیق دوه ډوله دي د زیربنا پلي کول او د اډ هاک پلي کول، چې په اړونده برخه کې به تشریح سي (Quest Technology Management, 2022).

**د WLAN شبکې کارولو گټه:**

د WLAN ترټولو ښکاره گټه دا ده، چې وسایل د بیسیم سره وصل کیدای سي د کېبلونو اړتیا له منځه یوسي، دا کورونو او سوداگرۍ ته اجازه ورکوي، چې د انټرنیټ سره ودانۍ لین کولو پرته سیمه ایزې شبکې رامنځته کړي. دا د کوچني وسیلو، لکه سمارټ فون او ټابلیټونو شبکې ته د ننبلولو لاره هم چمتو کوي. د WLAN شبکې د فزیکي روټر پورټونو شمېر پوري محدود نه دي او له همدې امله د لسگونو یا حتی سلگونو وسیلو ملاتړ کولای سي. د WLAN لړۍ په اسانۍ سره د

یو یا ډېرو تکرار کونکو په اضافه کولو سره پراخه کیدای سي په نهایت کي د نوي نسخو سره د راوتړونو په ځای کولو سره WLAN په اسانۍ سره لوړ کیدای سي. د زړو انټرنیټ کېبلونو لوړولو په پرتله خورا اسانه او ارزانه حل دی(Akyildiz et al., 2005).

**د WLAN کارولو زیانونه:**

بیسیم شبکې په طبیعي ډول د تار لرونکی شبکې په پرتله لږ خوندي دي. هر بیسیم وسیله کولای سي هڅه وکړي، چې د WLAN سره وصل سي نو که امنیت یوه اندیښنه وي، دا مهمه ده چې شبکې ته لاسرسی محدود کړي دا معمولا د بیسیم تصدیق په کارولو سره ترسره کېږي، لکه WEPیا WPA کوم چې مخابرات انکریپټ کوي. برسېره پردې د بیسیم شبکې د نورو سیګنالونو یا فزیکي خنډونو، لکه کانکریټ دیوالونو مداخلې لپاره ډېر حساس دي ځکه، چې د سیمه ایزو شبکو ترټولو لوړ فعالیت او امنیت شتون لري. دوی لاهم د ډېری شرکتونو او دولتي شبکو لپاره کارول کېږي(Akyildiz et al., 2005).

**د سیمه ایزو بیسیم شبکو پلي کول:**

**زیربنایی بیسیم شبکه:**

زیربنایي بیسیم شبکه د اکسس پوینټ په کارولو سره جوړه سوې دا د تطبیق حالت د Ad-Hoc حالت په مقابل کي مرکزي سوې او اړیکي د مرکزي نقطې له لاري رامنځته کېږي کوم چې د اکسس پوینټ ده په لاندي کي موږ به په لنډه توګه د اکسس پوینټ او د هغې ځانګړتیاوي معرفي کړو(Ayaan,2007).

د اکسس پوینټ د دوه پورټ لرونکي شبکې تجهیزات دي، چې د بیسیم شبکې وسایل له تار شبکې (لکه انټرنیټ) سره وصل کوي. په بل عبارت د اکسس پوینټ د موجونو له لاري د بیسیم وسیلو لخوا لیږل سوي معلومات ترلاسه کوي او په تار کي لیږي او برعکس دا هغه معلومات لیږدوي، چې دا د تارونو له لاري ترلاسه کوي د موجونو په واسطه بیسیمه وسیلو ته لیږدول کېږي، چې د بیسیم شبکې وسایل، لکه ګرځنده تلیفونونه او کمپیوټرونه یوازي د اکسس پوینټ سره وصل دي او مستقیم یو بل سره اړیکه نه نیسي د اکسس پوینټ وړتیاوو په منځ کي موږ کولای سو د پراخه لړۍ رامنځته کولو او د ړندو ځایونو پوښلو او دې سره د ډېری بیسیم وسیلو د وصل کولو امکان یادونه وکړو په یو لوی ځای کي که چیري د لاسرسي څو نقطې شتون ولري د یو اکسس پوینټ څخه لیري کیدو او بل اکسس پوینټ ته نږدې کیدو سره ستاسو اړیکه به د نوي اکسس پوینټ سره رامنځته سي او په دې توګه به ستاسو د شبکې سره اړیکه ساتل کېږي. روټر یو له دریم پورټ شبکې تجهیزاتو څخه دی، چې واقعیا سیمه ایز شبکه له انټرنیټ سره نښلوي، په یوه ودانۍ کي بیسیم او تار لرونکي شبکې د اکسس پواینټ په کارولو سره یو واحد محلي شبکه جوړوي، چې په پای کي د روټر له لاري انټرنیټ سره وصل کیدای سي(Ayaan,2007).

**اډ هاک بیسیم شبکه:**

اډ هاک بیسیم شبکه په مستقیم ډول یو له بل سره د بیسیم وسیلو سره وصل کیدو سره رامنځته کېږي له همدې امله ددې پلي کولو بل نوم peer to peer دی، دا د تطبیق حالت ویشل سوی او یو ثابت او ځانګړي زیربنا ته اړتیا نه لري، لکه د مرکزي ارتباط نقطه. په دې شبکه کي هر وصل سوی نوډ ترلاسه سوي ډاټا نورو نوډونو ته لیږي په دې پلي کولو کي د مرکزي مدیریت نشتوالي له امله نوډونه باید بدلونونه تعقیب او اداره کړي، لکه د ټوپولوژي بدلون دا تطبیق له امنیتي ننګونو سره مخامخ دی. څرنګه چي په دې شبکه کي د روټر په څیر د مرکزي ډیټا تبادلې واحد شتون نه لري، نو دا ممکنه نه ده چې د امنیتي تجهیزاتو، لکه د فایروال کارول سربیره پردې د ویشل سوي میکانیزم له امله د امنیتي پالیسیو پلي کول د ټولو نوډونو ګډون پوري اړه لري. همدارنګه روټینګ د هر نوډ د ناکامۍ یا لاسوهني لخوا اغیزمن کیدای سي. که تاسو کوچنی او لنډمهاله شبکې ته اړتیا لرئ نو سپارښتنه کېږي، چې د اډ هاک فورمه وکاروئ. ځکه چې دا د شبکې جوړولو لپاره تجهیزاتو چمتو کولو ته اړتیا نه لري او په اسانۍ سره د وسایلو په کارولو سره جوړیږي. مګر که تاسو دایمي یا لوی شبکې ته اړتیا لرئ او جدي امنیتي ملحوظات لرئ، لکه د یوې اداري شبکه د زیربنا پلي کولو کارول سپارښتنه کېږي(Ayaan,2007).

**ښاري بیسیم شبکه (Wireless metropolitan area networks یا Wireless MANs)**

ښاري بیسیم شبکې لکه څنګه، چې نوم وړاندیز کوي د ښار یا یوې لویي ساحې په اندازه پراخه ساحه شبکه ده، چې ډېری محلي شبکې سره نښلوي، دا محلي شبکې د نوري فایبر له لاري نښلول کیدای سي او د ښار شبکه جوړوي(Ayaan,2007).

**د MAN ښاري شبکې بل تعریف:**

**د میټروپولیټان ساحوي شبکه** (MAN)د کمپیوټر شبکه ده، چې په جغرافیه کي یا لوی ځای کي د کاروونکو کمپیوټر سرچینې سره نښلوي، ددې شبکې تر پوښښ لاندې ساحه کیدای سي د لوی **محلي ساحې شبکې (LAN)لخوا پوښل سوي ساحې څخه لویه وي. مګر د پراخي ساحې شبکې** (WAN)لخوا پوښل سوي ساحې څخه

کوچنۍ وي. د MAN اصطلاح په یوه ښار کې د لوی شبکې سره د شبکې نښلولو ته اشاره کوي، دا ډول شبکه کولای سي په مؤثره توګه د پراخه ساحې شبکې (WAN)سره وصل سي، دا اصطلاح په ښاري سیمه کې د څو محلي ساحوي شبکو د ارتباط تشریح کولو لپاره هم کارول کېږي، چې د دوی تر منځ د پواینټ ټو پواینټ اړیکې کاروي. ددې شبکې رینج له 5 څخه تر 50 کیلومتره پوري دی(Ayaan,2007).

**د ښاري شبکې اداره کول:**

**د ښاري MAN شبکې** مالکیت او مدیریت د یوې ادارې په لاس کې کیدای سي. مګر معمولا ډېری سازمانونه او افراد په دې مسله کې رول لوبوي دا هم ممکنه ده، چې ښاري شبکې د عامه خدماتو په توګه د دولت لخوا ملکیت او اداره سي، دا شبکې اکثرا د یو بل سره د مختلف محلي شبکو د نښلولو لپاره مناسب پلیټ فارم چمتو کوي(Ayaan,2007).

**د ښاري شبکې تخنیکي اړخونه:**

ددې هدف لپاره کارول سوي ځیني ټیکنالوژي د اسینکرونوس لیرد حالت FDDI (ATM) او SMDS دي، دا زړه ټیکنالوژي **د انټرنیټ** پر بنسټ د میټرو پولیټین شبکې لخوا ځای په ځای کېږي، لکه میټرو انټرنیټ چې په ډېری برخو کې پلي سوي.

**د MAN شبکې چې** د شبکې کېبلونو ته اړتیا پرته د ځایي شبکو ترمنځ ارتباط چمتو کوي هم رامنځته سوي او مایکروویو راډیو یا انفراریډ لیزر مخابرات کاروي.

د DQDB معیار د ډېټا مخابراتو لپاره د میټرو پولیټین شبکې معیار دی. دا معیار د IEEE 802.6 معیار کې تعریف سوی د DQDB معیار په کارولو سره شبکې تر 30 میلیونو پوري غځول کیدای سي او د 34 او 155 Mbit/s ترمنځ سرعت سره کار کوي.

**د MAN ښاري شبکې ځانګړتیاوې:**

-1 ډېری لاسرسي او لوړ بینډ ویت ته اجازه ورکول.

-2 دا په شبکه کې د محلي خدماتو لپاره دایمي ارتباط چمتو کوي.

-3 په یوه مشخصه جغرافیه کې فعالیت کوي.

-4 ښودل سوي شبکې تجهیزات په فزیکي چاپیریال کې په اسانۍ سره نښلوي.

-5 دا د محلي مدیریت لاندي د شبکې کنټرول فعالوي.

**په دې شبکه کې پروتوکولونه شتون لري.**

په محلي شبکو کې موجود پروتوکولونو کې مورږ کولای سو یادونه وکړو(FDDI) Fibre Distributed Data Interface او انټرنیټ.

د براډبنډ بیسیم شبکې په حقیقت کې د بیلابیلو ښاري او محلي شبکو پیوستون دی. دا ډول شبکه پراخه ساحه پوښي، لکه څو ښارونه یا یو هیواد انټرنیټ د WAN یو ډول دی یو له پراخو بیسیم شبکو څخه د سیلولر شبکه ده(Martignon, 2010).

**د بیسیم شبکې تجهیزات کوم ډول دي؟**

د شبکې تجهیزات په دوه کټګوریو ویشل سوي : فعال او غیر فعال.

**د شبکې فعال تجهیزات:** په دې کې شامل دي: روټرونه د شبکې کارتونه، کنورټرونه، سویچونه، موډیمونه، روټرونه، اکسس پواینټ، فایروال او نور.

**غیر فعال شبکې تجهیزات:** په دې تجهیزاتو کې آپټیکل فایبر، د شبکې ریک، کواکسیل کېبل، بیسیم انتن او داسي نور شامل دي(Martignon, 2010).

**بیسیم لینک څه شی دی؟**

د بیسیم لینک کارول د ډېټا لیږد یو له خورا عام میتودونو څخه دی، په حقیقت کې د بیسیم راډیو لینک په مرسته د یوې ادارې یا شرکت څانګې یو له بل سره وصل کیدای سي(Jawaad,2000).

بیسیم لینکونه په لاندي ډول په دوه عمومي کټګوریو ویشل سوي دي:

**point to multi point:**

په دې حالت کې د بیسیم لینک ددې لپاره دی کله، چې تاسو غواړئ د څو نقطو تر منځ بیسیم اړیکه رامنځته کړئ. په دې حالت کې یو مرکز نقطه کېښودل کېږي او نور نقطې به له دې نقطې سره وصل سي، دا شبکه هم وسایلو ته اړتیا لري، لکه راډیو.

**Point to point wireless link :** دا ددې شبکې د دوو نقطو تر منځ د بیسیم ارتباط د رامنځته کولو لپاره کارول کېږي یو مناسبه راډیو باید په هر ځای کې نصب سي د ګرځنده تلیفون شبکې ددې ډول شبکې اړیکي روښانه بیلګه ده(Jawaad,2000).

د بیسیم لینک په رامنځته کولو کې مؤثر عوامل:

د بیسیم لینک په رامنځته کولو کې د اغیزمنو فکتورونو په منځ کې لاندې یادونه کیدای سي:

په بیسیم شبکه کې د نقطو ترمنځ فاصله:

په بیسیم شبکو کې لکه څنګه چې فاصله زیاتیږي بینډ ویت کمیږي په حقیقت کې، لکه څنګه چې فاصله ډیریږي بینډ ویت به هم کم سي. کچیرې فاصله له یو ټاکلې حد څخه زیاته سي د اړیکو امکان به له لاسه ورکړي په داسې قضیو کې ریپټر یا د سیګنال تقویت کوونکې هارډویر کارول کیږي (Jawaad,2000).

د بیسیم شبکې مستقیم لید:

د بیسیم وسیلو ترمنځ د بیسیم لینک رامنځته کولو بله ځانګړتیا د لید ده. په دې معنا چې د وسیلو انتنونو ترمنځ باید کوم خنډ شتون ونه لري، د خنډ شتون به بینډ ویت کم کړي او په پایله کې به اړیکه قطع کړي (Jawaad,2000).

**Wi-Fi څه معنا لري؟**

لکه څنګه چې د بیسیمه شبکو ډولونو په برخه کې یادونه وسوه Wi-Fi د بیسیمه سیمه ایزو شبکو د جوړولو لپاره ټیکنالوژي ده په حقیقت کې Wi-Fi د IEEE 802.11x معیارونو پلې کولو لپاره د براند نوم دی. دا معیارونه د راډیو څپو له لارې د معلوماتو تبادلې امکان چمتو کوي. په لاندې کې زه به ددې معیارونو کورنۍ بیاکتنه وکړم (Ahmadi, 2004).

**Wi-Fi یا IEEE 802.11x معیارونه:**

لکه څنګه چې په تیره برخه کې یادونه وسوه د معیارونو دا کورنۍ د راډیو څپو په کارولو سره د معلوماتو تبادلې امکان چمتو کوي. په لاندې ډول به مونږ ددې معیارونو ګروپ خورا مهم غړي معاینه کړو.

**802.11 معیار:**

802.11 لومړی معیار دی چې په دې ګروپ کې وړاندې سوی، دا په 1997 کې معرفي سو او په یوه ثانیه کې د 1 څخه تر 2 میګابایټ (Mbps) پورې د ډیټا لیږد سرعت چمتو کړ دا معیار د 2.4 GHz (GHz) فریکونسی کارولې او د ډیټا لیږد لپاره د (Frequency-hopping spread spectrum) FHSS DSSS (Direct sequence spread spectrum) یا د دوی څخه یوه یې کارولې (Ahmadi, 2004).

**802.11a معیاري:**

دا معیار په 1999 کې معرفي سو او د 5 GHz فریکونسی یې کارولې. دا تر 54 Mbps پورې د ډیټا لیږد سرعت وړاندیز کوي. ددې معیار هدف د ګڼې ګوڼې په شبکو کې د راډیو مداخلې کمول وو. ددې لوړ سرعت سره سره دا معیار یو کوچنی حد پوښلی د 802.11 برعکس دا معیار د اورتوګونل فریکونسي ډیویژن ملټي پلیکسینګ (OFDM) کارولې (Ahmadi,2004).

**802.11b معیاري:**

د وای فای د شهرت پیل! دا معیار هم په 1999 کې وړاندې سو 802.11 bلیوازې د DSSS میتود کاروي او د 11 Mbps اعظمي لیږد سرعت چمتو کوي. کوم چې ممکن د سیګنال ځواک پورې اړه لري 5.5 2 یا 1 Mbpsته راټیټ سي دا معیار د 2.4 GHz فریکونسی څخه په لومړۍ نسخه (802.11) کې یو تعدیل وو. کوم چې ددې معیار فعالیت د انټرنیټ سره نږدې کړ (Ahmadi,2004) .

**802.11g معیاري:**

802.11g په 2003 کې معرفي سو دا معیار د 2.4 GHz فریکونسی او OFDMمیتود کارولی او تر 54 Mbps پورې د لیږد سرعت وړاندیز کړی. دا معیار چې د دوو پخوانیو معیارونو ترکیب دی د Wi-Fi پوښښ پیل دی (Ahmadi,2004).

**802.11n معیاري:**

په 2009 کې د لومړي ځل لپاره د 2.4 او 5 GHz فریکونسي کارول په 802.11 nمعیار کې وړاندیز سوې دہ. په دې معیار کې د څو انتنونو څو محصولاتو MIMO یا څو ان پوټ څو محصول طریقه کارول سوې وه کوم چې د څو انتنونو کارولو او موازي لیږد ته اجازه ورکړه دا معیار د 150 Mbps د لیږد سرعت چمتو کوي. کوم چې د 4 لیږد چینلونو په کارولو سره د 600 Mbps اعظمي لیږد سرعت ته رسي. سربیره پردې د 2.4 GHz فریکونسي کارولو له امله دا هم ښه پوښښ چمتو کوي دا معیار د 4 Wi-Fi په نوم هم پیژندل کیږي (Martignon et al., 2009).

**802.11ac معیار:**

په 2013 کې معرفي سوی د 802.11 ac یا 5 Wi-Fi معیاري د 5 GHz فریکونسی کاروي، نو دا ښه پوښښ نه لري. مګر له بلې خوا دې معیار د لیږد سرعت کې د پام وړ زیاتوالی چمتو کړی. کوم چې د MIMO

میتود په کارولو سره د لېږد سرعت په ثانیه کې اعظمي 3.5 ګیګابایټ (Gbps)ته رسي. د نن ورځې ډېری وسایل Wi-Fi 5 او Wi-Fi 4 کاروي(Martignon et al., 2009).

**802.11ax معیاري:**

د وای فای وروستی معیار اوس! دا معیار چې په 2019 کې معرفي سوی د 2.4 او 5 GHz دوه فریکونسي کاروي، چې د Wi-Fi 6 په نوم هم پېژندل کېږي. دا معیار کولای سي په تیوریکي توګه د 9.6 Gbps لېږد سرعت چمتو کړي 802.11 axډېری کاروونکو ته اجازه ورکوي، چې په ورته وخت کې وصل سي(Martignon et al., 2009).

**د وای فای امنیت:**

یو له منفي ټکو څخه، چې د بېسیم شبکې سره مخ کېږي په ځانګړې توګه وای فای ددې ډول شبکې امنیت ننګوني دي دا روښانه ده، چې د وای فای شبکې په څېر د وای فای شبکې په ساحه کې یو غیر مجاز کارونکي د بېسیم اتصال وړ وسیله لري (لکه لپ ټاپ) که د شبکې امنیت کمزوری وي کولای سي له دې سره وصل سي او ناوړه عمل وکړي. عملونه کول دا عمل د مجاز وسیلو څخه حساس معلومات غلا کول د شبکې ټرافیکي کڅوړو اوریدل په وسایطو کې مهم معلومات سمبالول یا نور عملونه کیدای سي په لاندې کې موږ به د وای فای امنیت چمتو کولو میتودونه معاینه کړو (Omar, 2002).

- په شبکه کې کارول سوي وسیلې د ډیفالټ پاسورډ بدلول یوه ساده مګر مؤثره لاره ده. د غیر مجاز لاسرسي لپاره د ډیفالټ ترتیباتو څخه ناوړه ګټه اخیستنه یو له خورا عام امنیت ستونزو څخه دی.
- د هغو خلکو د MAC ادرس معرفي کول، چې د شبکې کارولو اجازه لري د MAC ادرس یو پېژندونکی دی، چې د شبکې کارت ته ځانګړی دی. له همدې امله هر وسیله، چې له شبکې سره وصل وي یو ځانګړی ID ولري، چې د مجاز خلکو ID معرفي کولو سره شبکې ته د غیر مجاز خلکو د لاسرسي مخه نیولو لپاره کارول کیدای سي (Omar, 2002).

**بل موږ به د Wi-Fi امنیتي پروتوکولونه بیاکتنه وکړو.**

- WEPیا Wired Equivalent Privacy پروتوکول لومړی پروتوکول وو، چې د بېسیم شبکې امنیت لپاره وړاندې سوی وو، چې په 1999 کې معرفي سو او د وای فای امنیت پروتوکول په توګه کارول کیده دا پروتوکول، لکه څنګه چې ددې نوم وړاندیز کوي د تارونو شبکې سره برابر امنیت رامنځته کولو هدف سره وړاندې سوی، که څه هم ددې پروتوکول ډېری امنیتي ستونزې او زیانونه ددې لامل سوې، چې په 2004 کې په رسمي توګه پرېښودل سي (Sundaresan & Sivakumar, 2005).

- WPAیا د Wi-Fi خوندي لاسرسي پروتوکول په 2003 کې WEPته د لنډمهاله پرمختګ په توګه معرفي سو دې ماډل د WEP په پرتله له خورا پیاوړي کوډ کول ترسره کړل او نصب او تنظیم کول یې اسانه وو، که څه هم د WEP په پرتله له د پام وړ پرمختګ سره د وخت په تیریدو سره ددې لپاره زیان منونکي کشف او خپاره سول WPAد دوهمې نسخې سره تر ټولو پراخه کارول سوې د وای فای امنیت پروتوکولونه دي.
- د WPA2 پروتوکول په 2004 کې معرفي سو دا پروتوکول د تیرو دوه پروتوکولونو په پرتله له د نصب او تنظیم کولو اسانه کولو سره سره لوړ امنیت رامنځته کوي. دا پروتوکول د معلوماتو کوډ کولو لپاره د AES کوډ کول کاروي کوم، چې د خوندي میتود په توګه پېژندل کېږي دا پروتوکول په اداري او کور شبکو کې کارول کېږي (Sundaresan & Sivakumar, 2005).

**د بېسیم سینسر شبکه: (WSN) یا(Wireless Sensor Network**

یو له بېسیمه سیمه ایزو شبکو څخه چې مختلف کاروني لري؛ د بېسیم سینسر شبکه ده. دا شبکه د اډ-هاک په بڼه پلي کېږي (دا تطبیق د سیمه ایز بېسیم شبکې په برخه کې بیاکتنه سوې) په دې شبکه کې یو لوی شمېر نوډونه په چاپیریال کې پاته کېږي، ترڅو د هغه چاپیریال په اړه ځانګړي معلومات راټول او ولېږل سي. دا معلومات د مرکزي واحد لخوا راټول سوي او کارونکي ته لېږل کېږي، لکه څنګه چې د اډ هاک تطبیق کې یادونه وسوه دا شبکه د اړیکو زیربنا ته اړتیا نه لري او نوډونه یوازې د یو بل سره د اړیکو په واسطه شبکه جوړوي، په دې شبکه کې د توزیع سوي مدیریت شتون له امله د سینسر دقیق موقعیت ټاکلو ته اړتیا نسته(Sundaresan & Sivakumar, 2005).

**د بېسیم سینسر شبکې برخې:**

- د سینسر نوډ: دا ډول نوډ د چاپیریال څخه د ځانګړو معلوماتو، لکه غږ، څپې، تودوخې یا نورو معلوماتو راټولولو مسولیت لري. د سینسر پروسیسر بیا راټول سوي معلومات په

سطحي ډول پروسس کوي او د سینسر **راډیو** ټرانسیور له لاري نورو نوډونو ته لیږي، ددې نوډ انرژي د بیټرۍ له لاري چمتو کېږي.

- Actuator نوډ: دا نوډونه د سینسر نوډ سره ورته دي. مګر اصلي توپیر د فعال عنصر درلودل دي په حقیقت کې دا سینسر یوازي هغه وخت فعال کېږي، چې فعاله برخه یو مشخص فعالیت ترلاسه کړي.
- روټر: دا نوډ د چاپیریال څخه معلومات نه ترلاسه کوي دا یوازي د راډیو څپو لخوا ترلاسه سوي معلومات له یو نوډ څخه نورو نوډونو ته لیږي، دا نوډ د نوډونو ترمنځ د خنډونو منفي اغیزو کمولو او د شبکې پراخولو لپاره کارول کېږي.
- ګیټ وې یا سنک نوډ: د نوډونو څخه ترلاسه سوي معلومات پروسس کوي او کارونکي ته یې راپور ورکوي (Farooqi, 2001).

**د بیسیم سینسر شبکه له کومو ننګونو سره مخ ده؟**

شاید ددې شبکې تر ټولو مهمه ننګونه **ددې د انرژۍ** مصرف مدیریت دی. که دا مسله اداره نسي سینسرونه به د شبکې څخه منحل سي. کله چې بیټرۍ پای ته ورسیږي کوم، چې کولای سي د شبکې هدف باندي ناوړه اغیزه ولري ددې ستونزي لپاره د حل لاره دا ده، چې د سینسرونو بیټرۍ چارج کولو لپاره د لمریزي انرژي کارول، بله لاره دا ده چې سینسرونه د خوب کولو لپاره واچوي، د سینسرونو خوب او ویښیدل د مرکزي واحد لخوا کنټرول کېږي په دې طریقه کې سینسرونه ۹۰٪ وخت د خوب په حالت کې تیروي کوم، چې د دوی د انرژي ذخیره کولو باندي خورا ښه اغیزه لري. بله ننګونه ددې شبکې د امنیت مسله ده لکه څنګه، چې د اډ هاک بیسیم شبکې برخه کې یادونه وسوه، ددې ډول شبکو امنیت رامنځته کول خپل مشکلات لري. د بیسیم سینسر شبکه په دې کې استثنا نه ده. ددې شبکې بله ننګونه **د** خدماتو کیفیت (QoS)او د نوډونو لخوا اړین بینډ ویت **دی** (Farooqi, 2001).

**د بیسیم سینسر کارول په لاندي ډول دي:**

- Internet Of Think (IoT)
- د چاپیریال څانګړتیاوي، لکه د هوا فشار، تودوخي او رطوبت معاینه کول.
- د چاپیریالي پیښو پیژندل، لکه د ځمکي ښویدني.
- د ناوړغ حالت څارلو لپاره طبي کارول.

**بیسیم یا ګرځنده شبکه (Cellular Network یا Mobile Network):**

لکه څنګه، چې د بیسیم شبکې ډولونو کې یادونه وسوه تر ټولو مشهوره پراخه بیسیم شبکه د سیلولر شبکه ده، چې موږ یې په دې برخه کې په لنډ ډول معرفي کوو. دا شبکه لکه څنګه، چې ددې نوم معنا لري د حجرو شبکه ده. حجره د یوې جغرافیې په معنا ده، چې معمولاً لږ تر لږه د یو لیږدونکي تر لاسه کونکي (بیس ټرانسسیور سټیشن) لخوا پوښل کېږي. حجرې په اندازه کې مساوي نه دي هغه سیمې، چې ډېر وسایل لري د خاموش سیمو په پورتې لوی حجرې لري، دا حجرې کولای سي په یوه لویه سیمه کې پراخه شبکه جوړه کړي(Dawoodi, 2004).
لکه څنګه، چې په لاندي عکس کې ښودل سوې په هر حجره کې موقعیت لرونکي لیږدونکي د ګاونډیو حجرو څخه مختلف فریکونسي کاروي. دا د دوه نږدې حجرو د څپو د مداخلې مخه نیسي، اړیکه یوازي د لیږدونکو او ریسیورونو له لاري ممکنه ده او د شبکې سره تړل سوي وسایل (لکه ګرځنده تلیفونونه) نسي کولای مستقیم یو بل سره اړیکه ونیسي.
د یو واحد لیږدونکي په پورتې، لکه د سپوږمکۍ پوښښ په سیلولر شبکه کې ګرځنده وسیلو ته د لیږدونکي -رسیدونکو نږدې کیدو له امله د معلوماتو لیږد او استقبال د غوره انرژۍ مصرف سره ترسره کېږي. برسېره پردې دا په ویشل سوي ډول پراخه ساحه پوښي GSMاو GPRSپه پراخه کچه کارول سوي ګرځنده شبکې دي (Dawoodi, 2004).

**موبایل څه شی دی؟**

